**مطبوعاتي اعلامیه**

**د سیکولارېزم جمهوري نظام، د ښځو پر وړاندې ښکاره جنګ دی!**

**(ژباړه)**

له شک پرته چې موږ وینو اسلام او سیکولارېزم دوه مختلف او موازي خطونه دي، چې هېڅ نه سره یو ځای کیږي. یا هم دوه مختلفې عقیدې دي، چې ان په فرعي مسایلو کې هم هېڅ ګډ ټکی نه لري.

زموږ لپاره دا هم په ډاګه شوه، چې ذمیان، عیسویان او یهودیان په اسلامي نظام کې، په سوله کې ژوند کولی شي؛ خو د مسلمانانو لپاره دا ناممکنه ده، چې د سیکولارېزم د نظام تر حاکمیت لاندې په سوله کې ژوند وکړي.

اسلام ذمیانو ته حق ورکړی، څو خپل ژوند وکړي، د دوی حفاظت کوي، چې خپل مذهبي مراسم تر سره کړي. دغه راز ازاد یې پرېښي، څو واده، طلاق، میراث او همدارنګه خواړه، لباس او داسې نور شیان یې د خپل دین سره سم ترسره کړي؛ په دې شرط چې عامه فضا ته زیان ونه رسوي. د سیکولارېزم په اړه باید ووایم، چې د مسلمانانو ژوند او فزیکي بشپړتیا ته یې ضربه ورسوله، د هسپانیې د کړنلارې په تعقیبولو سره په دې لټه کې دي، چې له اسلام سره د دوی د جګړې په خاطر مسلمانان له ایمان څخه خلاص کړي.

هر څه چې د اسلام د احکامو مطابق بیان شي، ډېر ژر دوی پاڅون کوي او د سیکولرانو ملاتړ کوي. په داسې طریقه چې ګټه یې د غربي فرهنګ لاربښوونو، مفاهیمو او قوانینو ته ورسیږي. د منځلاریتوب په پلمه نورې ټولې خبرې له پامه غورځوي او همدارنګه موږ هېڅ وخت له دوی څخه د ښځو د ژوند، فقر، لوږې او هغه بې عدالتۍ ،چې دوی ترې ځوریږي، څه نه دي اوریدلي.

اسلامي تمدن ښځو ته اجازه ورکوي، څو قاضیانې، مخترع، سر لښکرې او د نسلونو معلمانې شي. ان په ډېری ځایونو کې مخکښې وي، سره له دې چې د دوی د فطرت سره سم، د مورولۍ دنده هم سرته رسوي. په داسې طریقه چې د دوی عزت او پاکي په کې خوندي وي. د سیکولارېزم او سیکولرانو په اړه باید ووایم چې دوی

يوازې غواړي ښځې د بې ارزښته جنس يا متاع په حيث وي او دوی وکولی شي د خپلو منفي او کثيفو ګټو لپاره يې وکاروي.

له همدې امله، موږ نن ورځ د ښځو پر وړاندې يو سيستماتيک کمپاين کوو، چې دا د مسلمانانو وروستنۍ کلا او سنګر دی. غرب غواړي چې له افراطيت او تروريزم سره د مبارزې تر نامه لاندې يې له منځه يوسي؛ د هغه نړيوال قانون مطابق چې اسلامي هېوادونو ته د غرب د مستعمرې اجازه ور کوي؛ هغه څوک چې موږ له هغه پرته بل څوک ترهګر نه پيژنو.

موږ د حزب التحرير ـ ولايه تونس ښځينه غړې، لکه څرنګه چې موږ د استانبول د (نسلCEDAW ) د هوکړې پر ضد مو کمپاين پيل کړی دی. نو موږ چارواکو ته خبرداری ورکوو، چې په دغه پروژه کې د ګډون نه کوي او همدارنګه په خپلو خلکو باندې هم غږ کوو، څو هغه څه ته بيدار وي، چې دوی يې پلان کوي او هغه د بهرنيانو لپاره د مدرينيت او تقليد په نامه تعبيروي، چې د الله سبحانه وتعالی له احکامو څخه سرغړونه ده. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ فَلاَ تَعْتَدُوهَا وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللّهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُون**﴾ [البقره: ۲۲۹]

***ژباړه:*** *دا د الله تړاکلی پولې دي، له دې څخه مه اوړئ او څوک چې د الله سبحانه وتعالی له پولو څخه واوړي، همدوی ظالمان دي.*

**استاده حنان الكريمي**

**د حزب التحرير ـ ولايه تونس ښځينه رسمي ويانده**

**۱۴۴۲هـ.ق، د ربيع الاول ۲۳مه**

**۲۰۲۰م، د ډېسمبر ۸مه**